View Full Version : د لمانځه فرضونه ، شرطونه ، ارکان ، واجبات

hamedafg 01-09-2013, 08:48

د لمانځه فرضونه

دلمانځه فرضونه شپاړلس دي چي نهه(۹) له لمانځه نه دباندي او اووه(۷)په لمانځه کي دننه دي. دلمانځه نه د باندي فرضو ته د لمانځه شرطونه وايي او د لمانځه دننه فرضونو ته د لمانځه رکنونهوايي . د شرطونو د پوره کولو ، او د رکنونو د ادا کولو نه پرته لمونځ نه کيږي.

د لمانځه شرطونه

1) د بدن پاکوالی
۲) د جامو پاکوالی
۳) دلمانځه د ځای پاکوالی
٤) اودس کول په هغه صورت کې چې اودس ونه لري او که جنب وي غسل کول ، او که اوبه نه وي او يا له استعمال څخه عاجز وي نو تيمم وهل .
٥) د عورت پټول .
٦) د کعبې شريفې په لوري مخ کول .
۷) د لمانځه نيت .
۸) تکبير تحريمه ((لومړی تکبير))
۹) د لمانځه د وخت داخلېدل

د لمانځه ارکان

١) قيام ، يعني نېغ ودرېدل په داسې شان سره چې لاسونه يې زنګنونو ته ونه رسي .
٢) قرات ، يعني لږ تر لږه د قرآن شريف يو آيت لوستل
٣) رکوع
٤) سجده
٥) وروستی قعده : يعني د التحياتُ څخه د عَبدُ هُ وَرَسُولَهُ ، پورې د وېلو په اندازه کېناستل .
٦) له لمانځه څخه په عمل خپل سره وتل
٧) ترتيب دی د لمانځه د هغو ارکانو تر مېنځ چې په ټول لمانځه کې يو ځل راغلي ، لکه تکبير تحريمه او آخره قعده ، او يا د لمانځه په هر رکعت کې يو ځل راغلي دي ، لکه قيام او رکوع .

د لمانځه واجبات

د لمانځه واجبات په لاندې ډول دي .
١) د فاتحې ، الحمد لله ، د سورت لوستل.
٢) د فرض لمانځه په دوه لومړيو رکعتونو او د سنتونو او نفلونو په هر رکعت کې د فاتحې د سورت سره د قرآن کريم د کوم بل سورت او يا څو آياتونو د قرات پيوسته کول .
٣) د فرض لمونځ د دوه لومړيو رکعتونو ټاکل د قرات د پاره .
٤) په دواړو قعدو کې د تشهُد لوستل .
٥) لومړۍ قعده .
٦) د وترو په وروستي دريم رکعت کې د قنوت د دعا لوستل .
٧) د دواړو اخترونو د لمونځونو تکبيرونه
٨) په جهري لمانځه کې د امام لخوا قرائت په زوره لوستل
٩) په خُفيه لمانځه کې قرائت په پټه سره لوستل .
١٠) د ارکانو تعديل : يعني ارکان په طمانيه او آرامتيا سره پوره ادا کول .
١١) د جماعت په لمانځه کې د امام متابعت.

د لمانځه سنتونه

١) د لومړي تکبير وېلو په وخت کې نارينه ولره د غوږو تر نرمبو پورې ، او ښځو لره د اوږو تر سرونو پورې دواړه لاسونه پورته کول .
٢) د لاسونو د پورته کولو په وخت کې وتې په خپل حال پرېښودل .

٣) په لوړ آواز د امام تکبير ويل .
٤) د ښي لاس اينودل په کينړ لاس باندې په داسي ترتيب سره چي د ښي لاس غټه او خچه ګوتي د کينړ لاس له مړوند څخه حلقه شي ، او درې نورې ګوتي يې د کينړ لاس په تخته ، بند ، باندې راشي .
٥) د نارينه و د پاره د نامه د لاندي ، د ښځو لپاره په سينه د لاسونو تړل .
٦) په خفيه د اعوذُ بِاللهِ لوستل .
٧) په خفيه د بِسمِ الله لوستل .
٨) په خفيه د ثنا سُبحانَکَ اللهُمه لوستل .
٩) د وَلاَالضَآلِين څخه وروسته آمين ويل .
١٠) د انتقالاتو تکبير ويل .
١١) په رکوع کي درې ځلي ((سُبحَانَ رَبِیَ العَظَيم)) ويل .
١٢) په رکوع کي د لاسونو په ګوتو د دواړو زنګنونو ټينګ نيول .
١٣) امام لره ((سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَه)) او مقتدي لره ((رَبَنا وَلَکَ الحَمدُ)) او يواځي لمونځ کوونکي لره د دواړو ويل .
١٤) وروسته له رکوع څخه قومه کول . (سم نيغ ودرېدل)
١٥) سجده په داسي ترتيب کول ، چي اول به زنګنونه بيا لاسونه ، بيا پوزه او وروسته تندی د دواړو لاسونو په مېنځ کي کېږدي ، څنګلي به له اړخونو نه ، او ګېده به له ورنونو ، او ورنونه به له پنډيو نه ، او پنډی به له ځمکي نه لرې ساتي .
او د پښو ګوتي به قبلي ته مخامخ کوي . ښځه به څنګلي د اړخونو ، ګېډه به د ورنونو او ورنونه به د پنډيو ، او پنډی په د ځمکي سره نښلوي .
١٦) په سجده کي درې ځلي ((سُبحانَ رَبِیَ الأ علی)) ويل .
١٧) د دواړو سجدو په مېنځ کي جلسه ((کېناستل) او په زنګنونو باندې د دواړو لاسونو اېښودل .
١٨) د نارينه و د پاره د ښي پښي ودرول او د کيڼي پښي غوړول ، او درباندې کېناستل . ښځي لره د دواړو پښو ښي خوا ته ويستل او په کيڼ کوناټي کېناستل .
١٩) په وروستۍ قعده کي د تشهد څخه وروسته درود او دعا لوستل .
٢٠) د اَلسَلامُ عَلَيکُم وَرَحمَتهُ اللهِ په ويل سره مخ ښي او بيا کيڼ طرف ته ګرځول .

دد ورځنی پښتو حديث له صفحي نه

fida
14:05 ,01-09-2013

مننه حامد صاحب ښه مفيده او لنډه موضوع مو را نقل کړي، ټول شروط الصلاة په کښي نغښتی دی. :) الله دی اجر درکړي.

hamedafg
14:59 ,01-09-2013

مننه فدا صيب والخلاصة الکيدانية ايضا

مومندافغان
10:26 ,01-10-2013

السلام عليکم ورحمةالله وبرکاته
الله دي نيک اجر درکړي حامدافغان صيب ډيري خايسته موضوع مو پيل کړي که همداسي پسي وغزيږي نو ډير خلک به ورنه مستفيد شي.
محترمه که ستاسو اجازه وي نو پدي ليکنه کي يو پوښتنه لرم -
پوښته دا ده چي تاسو د لمانځه ارکان يعني هغه فرايض چي په لمانځه کي دننه دي بيان کړيدي پدي کي دا شپږم رکن کي -
تاسو ليکي:[له لمانځه څخه په عمل خپل سره وتل] نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چي: [رقم الحديث: 166
(حديث مرفوع) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=28993) ، ثنا أَحْمَدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ عُزَيْزٍ
(http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=52985) ، ثنا أَبِي (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=52986) ، ثنا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ
(http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=1050) ، حَدَّثَنِي أَبُو حَنِيفَةَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=1734) . ح وَحَدَّثَنِي أَبُو مُحَمَّدِ
بْنُ حَيَّانَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=22989) ، ثنا مُحَمَّدُ بْنُ سَهْلٍ التُّسْتَرِيُّ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=29318)
، ثنا يَحْيَى بْنُ غَيْلانَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=33822) ، ثنا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بَزِيعٍ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?
RawyID=21991) ، ثنا أَبُو حَنِيفَةَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=1734) . حَ وَثنا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحِيمِ
(http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=10343) ، ثنا مُحَمَّدُ بْنُ نُوحٍ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=41848) ، ثنا الْفَضْلُ بْنُ
عَبَّاسٍ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=26452) ، ثنا يَحْيَى بْنُ غَيْلانَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=33822) ، ثنا
عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بَزِيعٍ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=21991) . ح وَثنا أَبُو بَكْرٍ الْعَاصِمِيُّ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?
RawyID=28589) ، ثنا أَبُو عَرُوبَةَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=15382) ، وَأَبُو مَعْشَرٍ الْخُزَاعِيُّ
(http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=47155) ، قَالا : ثنا عَمْرُو بْنُ أَبِي عَمْرٍو (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=25590) ، ثنا
مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=27627) ، عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=1734) ح .
وَثنا مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=28589) ، ثنا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الضُّمَيْرِيُّ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?
RawyID=52435) ، ثنا إِبْرَاهِيمُ بْنُ إِسْحَاقَ الْقَاضِي (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=11355) ، ثنا مُحَمَّدُ بْنُ يَعْلَى السُّلَمِيُّ
(http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=7340) ، عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=1734) . ح وَثنا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ
بْنِ مِقْسَمٍ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=10153) ، وَيُوسُفُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الأَشْجَعِيُّ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?

(RawyID=52977 ، قَالا : ثنا مُحَمَّدُ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ مُحَمَّدٍ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=27741) ، ثنا الْخَضِرُ بْنُ أَبَانَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=16392) ، ثنا عَبْدُ الْحَمِيدِ الْحِمَّانِيُّ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=4240) ، عَنْ أَبِي حَنِيفَةَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=1734) . ح وَثنا ابْنُ الْمُقْرِئِ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=28589) ، ثنا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ السُّنُوسِيُّ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=52987) ، ثنا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ التُّسْتَرِيُّ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=52988) ، ثنا مَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=7660) ، ثنا أَبُو حَنِيفَةَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=1734) ، كُلُّهُمْ قَالُوا : عَنْ أَبِي سُفْيَانَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=4006) ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=1698) ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ (http://www.islamweb.net/hadith/RawyDetails.php?RawyID=3260) ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : " الْوُضُوءُ مِفْتَاحُ الصَّلاةِ ، وَالتَّكْبِيرُ تَحْرِيمُهَا ، وَالتَّحْلِيلُ تَسْلِيمُهَا " . رَوَاهُ : أَبُو يُوسُفَ ، وَالْحَسَنُ بْنُ الْفُرَاتِ ، وَالْمُقْرِئُ ، وَابْنُ الْمُبَارَكِ ، وَسَعِيدُ بْنُ الصَّلْتِ ، وَإِسْحَاقُ الأَزْرَقُ ، وسعيد بن أبي الحسن بن راشد ، والحسن بن زياد ، وسعيد بن مسلمة.

ژباړه: دابي سعيدالخدري رضی الله عنه نه روايت دی د نبي کريم صلی الله عليه وسلم نه روايت کوي چي فرماي: اودس د لمانځه کيلي ده او الله اکبر ويل يي پکي وررننوتل دی او السلام عليکم ورحمةالله وبرکاته ويل ورنه وتل او د لمانځه خلاصول دی.

نو اوس دا مسأله څرنګه شوه که په خپل عمل د لمانځه نه وتلو سره لمونځ تماميږي نو داسي بيا کيدی شي يو سړی لمونځ ختم کړي او بيا السلام عليکم ورحمةالله وبرکاته ونه واي او سملاسي جيګ شي او يو کار پيل کړي مثلا يوم راواخلي او ځمکه اړول پيل کړي يا قلم راواخلي او ليکل پيل کړي او يا نو راسا فيسبوک ته کيني او کومنټونه شروع کړي ايا لمونځ يي صحيح شو که فاسد؟ که داسي يو کس وکړي بيا به لمونځ له سره راګرځوي او که سم شو ؟ ستاسو د ليکني په بناء خو لمونځ صحيح دی او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم له وينا مطابق لمونځ يي صحيح ندی او دا سړی د لمانځه څخه ندی وتلي نو که کوم داسي عمل يي وکړ لمونځ يي فاسد او له سره به يي کوي تاسو څه پکي واي.
ملحوظه: ګورئ ورورنو دا حديث هم په مسندامام ابي حنيفه رحمه الله کي روايت شويدی او پدي ليکنه کي نور ځاَيونه هم داسي وو چي زما نظر ورسره برابر نه وو لکه د نارينه لپاره لاسونه له نامه لا|||||||||||||||| |||||||||||||||||| ||||||||||||||||||اندي کيښودل او د ښځولپاره په سنت طريقه په سينه کيښودل خو دا چي يو شمير خلک پکي اختلاف لري نو زه هم تري تير شوم خو دا په خپل عمل سره له لمانځه نه وتل خو د امام ابوحنيفه رحمه الله د روايت کړي حديث سره هم مخالف دي څه پکي وايئ؟
په ډير معذرت سره محترم حامدافغان صيب موخه مي يواځي او يواځي اصلاح ده نه کومه شخړه جوړول هيله ده چي هيڅوک زره بدی نشي.
په خورا ډير درنښت

hamedafg 12:45 ,01-10-2013

مومند صيب له نظر نه مو ډيره مننه او دي ځای ته موپام وي چي زه
دموضوع ناقل يم مانده ليکلي نوله ځوابه هم تيريرم کوم بل ملګری يي
بايد ځواب ووايي ، په مننه

خان جهانګيرخان 12:04 ,01-13-2013

السلام عليکم ورحمةالله وبرکاته
حامد افغان صيب ډيره ښکلي او ګټوره موضوع مو پيل کړي ده ،الله ج دي اجرونه درکړي.
که د لمونځ کولو طريقه پداسي شکل تشريح شي چي د فرض،سنت ،واجب،نفل يوه يوه بيلګه وليکل شي.
چي په فرضو کي کوم کوم سورت ويل کيږي او څو سورتونه ويل کيږي. او همداسي د سنت ،واجب او نفل لمونځ دا ادا کولو يوه بيلګه وړاندي کړئ. ان شاءالله هغه کسانو لپاره چي د ملا صاحبانو په مخکي د لمونځ تيرولو جراءت نکوي ،ډير ګټور به وي.
مننه

احسان الله نعيمی اسد 19:20 ,01-31-2013

مننه حامد صاحب تاسو ډيره ښه موضوع راخيستی ده هيله لرم چی دا لړی نوره هم پر مخ لاړه شی ځکه اول زه ځان ښايم بيا داسی نورکسان هم شته دی چی په دين کی له ډيرو ستونزو سره مخامخ دی نو زما د محترمو ورونو نه دا خواهش دی چی کله دی پانی ته داخليږی بايد حتمی يوه موضوع له ځان سره وليکی ترڅو ټول سره پوه شو او نورو ته مو خير ورسيږی ولی ځکه چی اوس خلک په ډيرو نورو کارونو باندی بوخت وی نو که موږ او تاسی دا لړی پر مخ بوځو نو کيدای شی ډير کسان له ناوړو کارونو نه په همدی سره ددين لاری ته را وبلو .

دلمانځه په باره کی څلويښت حديثونه

لمونځ په دين کی يو ډير مهم بدنی عبادت دی نو ځکه د لمانځه په حصه کی ذيات حديثونه راغلی چی دهغه را ټولول دلته ګران دی له هغه څخه ۴۰ حديثونه په لاندی ډول دی.
۱- نبی اکرم صلی الله عليه وسلم ارشاد مبارک دی چه الله جل جلاله زما په امت دټولو څيزو نه مخکی لمونځ فرض کړ او په قيامت کی به دټولو څيزونو نه مخکی دمونځ حساب کيږی .
۲- بنده او دشرک په منځ کی فرق کونکی يواځی مونځ دی .
۳- داسلام نښه لمونځ دی څوک چه زړه فارغ کړی او دوختونو او مستحباتو لحاظ ساتلو سره لمونځ وکړی هغه مؤمن دی .
۴- هيڅ يو شی دايمان او دلمونځ نه بهتر فرض کړ شوی نه دی که چيری ددينه بهتر بل شی فرض کړی وی نو فرښتو ته به يی دهغه حکم ورکړی وای ،فرښتی شپه او ورځ څوک په رکوع کی او څوک په سجده کی دی .
۵- لمونځ ددين ستن ده .
۶- لمونځ دشيطان مخ توروی .
۷- لمونځ دمؤمن نور دی .

۸- لمونځ بهترين جهاد دی .
۹- کله چه بنده لمونځ شروع کړی نو الله تعالی د هغه طرف ته پوره توجه فرمايي او کله چه لمونځ نه لری شی الله تعالی هم تری لری شی .
۱۰- کله چه کوم آفت دآسمان نه نازليږی نو دجماعت له آبادونکو نه لری وی.
۱۱- که ځيری لمونځګزار په څه وجه دوزخ ته ولاړ شی نو اور يی د سجدی ځايونه نه سوزوی .
۱۲- الله تعالی د سجدی ځايونه په اور حرام کړی دی .
۱۳- دټولو نه زيات خوښ عمل دالله تعالی په نزد لمونځ دی چه په وخت وشی .
۱۴- الله تعالی ته دبنده په ټولو حالاتو کی دټولو نه ذيات خوښ دا حالت دی چه هغه په سجده کی ووينی چه تندی يی پر ځمکه وی .
۱۵- الله تعالی سره دبنده دټولو نه ذيات نزديکت په سجده کی وی .
۱۶- دجنت ګنجيانی لمونځ دی .
۱۷- کله چه بنده د لمونځ لپاره ودريږی نو د جنت دروازی ورته خلاصی شی او دالله تعالی او دغه لمونځګزار تر منځ پرده لری شی تر څو چه توخی يا نور څه کی مشغول نه شی .
۱۸- د لمونځ درجه په دين کی داسی ده لکه دسر درجه په بدن کی.
۱۹- لمونځ دزړه نور دی څوک چه زړه نورانی جوړول غواړی نو په لمانځه سره يی د جوړ کړی.
۲۰- دځمکی په کومه برخه د لمونځ په زريعه الله ياد شوی وی هغه برخه پر نورو حصو د ځمکی فخر کوی .
۲۱- څوک چه دوه رکعته لمونځ وکړی دالله تعالی نه څه دوعا وغواړی نو الله تعالی به دده دوعا قبلوی خو ژر وی يا د څه مصلحت له خاطره څه موده پس وی خو ضرور يی قبلوی.
۲۲- څوک چی يواځی والی کی دوه رکعته لمونځ وکړی چه دالله تعالی او فرښتو نه بغير يی هيڅ څوک هم ونه وينی نو هغه ته به د دوزخ څخه دخلاصی اجازه نامه ورکړشی .
۲۳- څوک چه يو فرض لمونځ ادا کړی دالله تعالی په نزد دهغه يوه دعا قبوله شوه.
۲۴- څوک چه د پنځه وخته لمانځه ساتنه کوی دهغه رکوع ،سجده ،اودس او نور په ښه شان آدا کوی جنت دهغه لپاره واجب شو او دوزخ په هغه حرام شو.
۲۵- لمونځ دهر پرهيز ګار قربانی ده .
۲۶- مسلمان بنده کله چه د پنځو لمونځونو ساتنه وکړی شيطان د هغه نه ويريږی او کله چه هغه په لمونځونو کی بی پروايی شروع کړی نو شيطان په هغه زړور شی د هغه په غلولو کی يی طمع پيدا شی .
۲۷- دټولو نه بهترين عمل په اول وخت کی لمونځ کول دی .
۲۸- دالله تعالی په نزد دټولو لمونځونو نه زيات خوښ په اول وخت کی لمونځ کول دی.
۲۹- دماسپخين دلمانځه ړومبی دڅلورو رکعتو ثواب داسی دی لکه د تهجد دڅلورو رکعتو .
۳۰- کله چی بنده لمانځه ته ودريږی نو د الله تعالی رحمت هغه طرف ته متوجه شی.
۳۱- دټولو نه بهترين لمونځ دنيمی شپی دی خو ددی کونکی ډير کم دی.
۳۲- دآخری شپی دوه رکعته لمونځ دټولی دنيا نه بهتر دی که ځيری ماته د مشقت ويره نه وی نو په امت به می فرض کړی وی.
۳۳- دتهجد لمونځ ضرور کوی چه تهجد دصالحانو طريقه ده او دالله تعالی د نزديکت سبب دی تهجد دګناهونو نه منع کوی او د خطاګانو د معاف کولو زريعه ده ،په دسره بدن هم تندرست کيږی .
۳۴- دلمانځه په باره کی دالله تعالی نهوويريږی ، دلمانځه په باره کی دالله تعالی نه وويريږی ، دلمانځه په باره کی دالله تعالی نه وويريږی.
۳۵- لمونځ ترک کول بنده کفر ته رسوی - يو بل ځای ارشاد دی چی دبنده او کفر وصل د لمانځ ترک دی – بل ځای ارشاد دی چی دايمان او کفر په منځ کی دلمونځ پريخودل فرق دی.
۳۶- څوک چی دوه لم ونځونه بغير له کوم غذر په يوه وخت وکړی هغه د ګناهونو د دروازی يوی دروازی ته ورسيد.
۳۸- په اسلام کی دهغه کس هيڅ حصه نشته کوم چه لمونځ نه کوی ،او بی اودسه لمونځ نه کيږی لمونځ ددين لپاره داسی دی لکه دسړی لپاره چه سر دی.
۳۹- څوک چی څلويښت ورځی په اخلاص داسی لمونځ وکړی چه تکبير اولی تری فوت نه شی نودغه کس ته به دوی خلاصون نامی ورکړ شی چه يوه د دوزخ څخه دحلاصون او دوهمه د نفاق څخه د نجات کيدو.
۴۰- دالله تعالی ارشاد دی چه ای د *ډم اولاده ته دورځی په شروع کی دڅلورو رکعتو نه آجز مه جوړيږه زه به ټوله ورځ ستا کارونه پوره کوم

نن ټکی آسيا